د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 460**

(21 - 26 مرغومی 1403 هـ ش)

## د منځني ختیځ په ورستیو بدلونونو کې د ترکیې ونډه او موخې یې




دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د منځني ختيځ په ورستيو بدلونونو کې د ترکيې ونډه او موخې يې ..................................... 3
- په منځني ختيځ کې د ترکيې د نفوذ هڅې.......................................................... 4
- په منځني ختيځ کې د ترکيې رول ......................................................................... 5
- په منځني ختيځ کې د ترکيې موخې...................................................................... 6
- په سيمه کې ترکيې ته پرتې ننګونې...................................................................... 6
- پايله ........................................................................................................ 7
- مأخذونه ....................................................................................................... 8


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

# د منځني ختيځ په ورستيو بدلونونو کې د ترکيې ونډه او موخې يې

## سريزه

دا چې اوسنۍ ترکيه د عثماني خلافت وارثه ده او عثماني خلافت ډير ستر تاريخ درلود، چې د نړۍ په دريو لويو وچو (اسيا، اروپا او افريقا) يې حکومت کړی دی، خو د لومړۍ نړيوالې جګړې په دوران کې عثماني امپراتوري د جرمنی په ملګرتيا په جنګ کې دخيله شوه، چې د جرمني د ماتې نه وروسته متحدينو هيوادونو د ترکيې ډيرې ځمکې لاندې کړې او بالاخره په ۱۹۲۴ز. کال د مارچ په دريمه نېټه عثماني خلافت رسماً له منځه لاړ او په پايله کې اوسنۍ جمهوري ترکيه رامنځته شوه[1]، د اوسنۍ ترکيه بنسټ مصطفی کمال اتاترک کيښود، چې د دې تغير نه وروسته ترکيه په يوه سيکولر ترکيه بدله شوه، اسلامي قوانين پکې ختم شول، په عربي ژبه بنديز ولګيد، د ترکيې ژبې رسم الخط د عربي ژبې څخه لاتيني ته تغير شو، په حجاب پابندي ولګيده، د ترکيې ولس د خپل تاريخ سره اړيکه ختمه شوه، خپل لباس او کلتور يې بدل کړ او ستر ارمان يې دا ؤ چې څرنګه د اروپايې ټولنې برخه شي، د ۱۹۳۸ز کال پورې د يو ګوند او يو شخص (اتاترک) حکومت ؤ، چې د دې نه وروسته د اتاترک د جمهوريت ګوند (Republican Party) څخه ځه خلک جدا شول او د ديموکرات ګوند (Democrat Party) يې رامنځته کړ، چې په ۱۹۵۰ز. کال کې د ديموکرات ګوند انتخابات وګټل او عدنان مندريس واک ته ورسيد، هغه يو څه مثبت تغيرات راوړل، آذان يې بيرته د ترکي ژبې څخه عربي ژبې ته واړولو، عربي او ديني کتابونو ته رجوع زياته شوه او ديني مدارس يې د امام خطيب ښوونځيو په شکل کې پرانېستل، چې د دې تغيراتو څخه وروسته د ترکيې سيکولر پوځ د عدنان مندريس تغيرات د ترکيې د سيکولر نظام لپاره خطر وګڼل او پر هغې يې کودتاه وکړه او هغه يې په ۱۹٦۰ز. کال کې اعدام کړ او د هغې نه وروسته د پوځي کودتاګانو سلسله شروع شوه، د عدنان مندريس نه علاوه د ترکيه په معاصر تاريخ کې دوه عمده شخصيتونو د ترکيه د سيکولر افکارو سره خپله مبارزه کړې ده چې يو بديع الزمان سعيد نورسي (۱۸۷٦ز- ۱۹٦۰ز) ؤ او بل استاد نجم الدين اربکان ( ۱۹۲٦ز- ۲۰۱۱ز) ؤ، سعيد نورسي په لومړيو وختونو کې د اتاترک سره ملګری ؤ، خو کله چې اتاترک د غرب او سيکولريزم لاره ونيوله، نو سعيد نورسي د هغې مقابله وکړه او د اتاترک دا کارونه يې چيلنج کړل، هغه د خپلو ليکنو، ديني مدارسو او تصوف (سلسله نقشبندي) له لارې خلکو ته د اسلام مبارک دين پيغام رسولو او خپل ولس يې د دين سره تړلو، د ده څخه علاوه استاد نجم الدين اربکان په خپل وخت کې د اسلام مبارک دين د روحاني او دعوتي فعاليتونو په خپل فکر او انداز سره د تقويه کولو ترڅنګ دين ته په ټولنيز ژوند او سياست کې د ګډون او شاملولو لپاره زياتې هڅې وکړې. استاد په ډيرو مشکلو حالاتو کې په پوره حکمت، صبر او استقامت سره د دين د نشر او دعوت لپاره کار وکړ، د دې ترڅنګ هغه ترکيه د غرب د سياسي، اقتصادي او کلتوري غلامۍ نه د خلاصون او د خود کفاء کولو او د اسلامي نړۍ سره د بيرته نښلولو لپاره ډيرې هڅې وکړې، هغه د مخ پر ودې اتو (8) اسلامي هيوادونو يو سازمان هم رامنځته کړ چې د (D8) په نامه هم يادېږي تر څو دغه اسلامي هيوادونه

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

خپل ساينسي، علمي، اقتصادي او سياسي هڅې سره شريکې کړي او په يو قوت باندې تبديل شي، استاد اربکان د خپلو سياسي او اصلاحي هڅو په نتيجه کې په ١٩٩٦ز. کال کې د ترکيې وزير اعظم شو، خو غرب د استاد نجم الدين اربکان شخصيت او د هغه لرليد د اسلامي نړۍ د عروج په هکله پيژنده، هماغه ؤ چې د ترکيې د پوځ په واسطه يې پر استاد اربکان باندې فشارونه زيات کړل او هغه يې اړ کړ چې استعفاء ورکړي او په ١٩٩٧ز. کال د فبرورۍ په ٢٨ يې خپله استعفاء ورکړه چې دې ته نرمه کودتا هم وايې.[2]

د ٢٠٠٢ ز. کال د انتخاباتو نه وروسته د عدالت او پرمختګ ګوند د رجب طيب اردوغان په مشرۍ واک ته راتلل، د ترکيې په اوسني تاريخ کې لوی تغير ؤ، د هغه د راتګ نه وروسته ترکانو سره د عثماني خلافت په ماډرن شکل رامنځته کولو هيلې راپيدا شوي، هغه په تيرو دوو لسيزو کې د ترکيې او ترکيې ولس لپاره ډير ستر کارونه ترسره کړل، تر څو ترکيه د نړۍ د لسو سترو اقتصادي، سياسي او نظامي ځواکونو په قطار کې راشي، هغه په نړۍ کې د ترکيه د سفارتونو شمير ١۴۴ ته او د قونسلګريو شمير ١٨٣ ته پورته کړو [3]، چې دا زياتوالی د ترکيې د بهرني سياست د فعالې تګلارې او په نړيواله کچه د خپلو اړيکو د پراختيا ښکارندويي کوي، هغه د ترکيه اقتصاد په يوه قوي اقتصاد بدل کړ، هغه د ترکيې نظامي قوت ډير پياوړی کړ د ده د راتګ نه مخکې ترکيه يوازې ٢٠فيصده په نظامي برخه کې خود کفاء وه، خو نن ورځ ترکيه ٨٠ فيصده په نظامي برخه کې خودکفاء ده او حتی نورې نړۍ ته نظامي وسايل او تجهيزات صادروي بالخصوص بيرقدار ټی بی ټو ډرون الوتکې، بحري بيړۍ او داسې نور او د ٢٠٢۵ز کال د نوی راپور په اساس ترکيه د نړۍ په لسو سترو نظامي قوتونو کې نهم مقام خپل کړی دی.[4]

## په منځني ختيځ کې د ترکيې د نفوذ هڅې

په منځني ختيځ کی چی تقريباً ١٧ هيوادونه (د ايران، ترکيه، قبرص، اسرائيل او مصر په شمول د جزيرة العرب ١٢ هيوادونه چې عبارت دي له سعودي عربستان، عمان، يمن ، متحده عربي امارت، قطر، بحرين، کويټ ، عراق، سوريه، اردن، فلسطين او لبنان) په کې شامل دي، د ترکيې لپاره يوه مهمه سيمه ده، او ترکيه غواړي چې په دې سيمه کې د يو ستر منطقوي ځواک په حيث يو بارز رول اداء کړي، د دې پخاطر هڅه کوي چې په ياده سيمه کې خپل سياسي او ستراتيژيک نفوذ لا قوي کړي.

کله چې په ٢٠١١ز.کال کې په عربي نړۍ کې د عربي پسرلي په نامه انقلابونه شروع شول، نو ترکيې د مصر، تونس ، ليبيا، يمن او سوريې د انقلابونو ملاتړ وکړ او دا يې د ملت مشروع حق وګڼه چې د خپلې خوښې حکومتونه رامنځته کړي، په همدې خاطر يې د مصر د هغه وخت ولسمشر محمد مرسي ملاتړ وکړ او د مصر دا تغير يې د مصر، ترکيې او سيمې لپاره مهم او ګټور وبللو، په همدې شان د ليبيا د وفاق حکومت نه يې چې د ملل متحد ملاتړ هم لا ځان سره لري، ملاتړ وکړ چې تر اوسه پورې يې سياسي او فوځي ملاتړ ته دوام ورکړی دی، په همدې ډول يې د سوريې د نظام د مخالفينو قوي او هر اړخيز ملاتړ وکړ، خو په ٢٠١٣ز.


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

کال کې په مصر کی د مرسي په حکومت د پوځ د مشر عبدالفتاح السيسي لخوا پوځي کودتا دا بهير د مشکلاتو سره مخامخ کړ، چی د کودتا نه وروسته د مصر، عربي اماراتو او سعودي عربستان اړيکې له ترکيې سره خرابې شوي او په هر ځای کې چې ترکيې حضور درلود، پر وړاندې يې سنگر ونيو، بالخصوص د ليبيا د وفاق د حکومت په مقابل کی د جنرال حفتر ملاتړ وکړ تر څو انقلابيون يو قوي مرکزي حکومت رامنځته نشي کړای، په همدې ډول د ترکيې سره يې مستقيماً د ټکر څخه ځان ساته، خو د ترکيې يو حليف او ملگری چې د قطر هيواد ؤ او د دې انقلابونو ملاتړ يې کولو باالخصوص د مصر د مرسي د حکومت څخه، نو هماغه ؤ چې مصر، عربي اماراتو، بحرين او سعودي عربستان د ۲۰۱۷ز. کال د جنوری پر ۵مه نېټه په قطر هيواد باندي سياسي، اقتصادي اوډيپلوماتيکي بنديزونه ولگول [5] ، دې هيوادونو د قطر هيواد د ترهگرۍ په ملاتړ تورن کړ چې د قطر هيواد دا تورونه رد کړل، بنديزونو کې د ځمکنی، سمندري او هوايي اړيکو بنديدل شامل وو، چې د قطر هيواد يې د جدي اقتصادي او سياسي ستونزو سره مخامخ کړ، خو په هماغه وخت کې هم د ترکيې په مرسته قطر د دې مشکلاتو باوجود بريالی شو او بالاخره په ۲۰۲۱ز. کال د جنورۍ پر پنځمه د ( العلاء ترون ) پر بنسټ سعودي عربستان او ملگرو يې له قطر سره اړيکې عادي کړې او د قطر محاصره يې پای ته ورسوله او قطر له دغې اقتصادي محاصرې څخه بريالی راووت او په دې کې له قطر سره د ترکيې همکاري په ځانگړې ډول د يادولو وړ ده.

د منځني ختيځ په وروستيو بدلونونو کې ترکيه د يوه مهم او فعال لوبغاړي په توگه راڅرگنده شوې ده چې دلته به د ترکيې په رول او بيا پر موخو او ستونزو لنډ بحث وکړو.

## په منځني ختيځ کې د ترکيې رول

په منځني ختيځ کې ترکيې په بېلابېلو برخو کې خپل رول اداء کړی دی چې ځينو برخو ته يې دلته اشاره کوو.

**لومړی- د ترکيه رغنده ديپلماسي:** ترکيې هڅه کړې چې په منځني ختيځ کې د ستونزو د حل لپاره منځگړيتوب وکړي. د سوريې، ليبيا، قطر او فلسطين په قضاياوو کې يې فعال رول لوبولی دی.

**دوهم- پوځي شتون:** ترکيه په منځني ختيځ کې خپل پوځي شتون پراخوي، لکه د قطر، عراق، او سوريې په مختلفو برخو کې د اډو جوړول او د ترهگرۍ ضد ( دکردانونظامي ډلو او داعش په وړاندې) عمليات ترسره کول.

**دريم- .اقتصادي نفوذ:** ترکيه هڅه کوي چې د انرژۍ په برخه کې يو مهم لوبغاړی شي او د منځني ختيځ له هېوادونو سره سوداگريزې اړيکې پراخه کړي.

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

**څلورم- کلتوري او ديني اغېز:** ترکیه د عثماني خلافت په میراث سره هڅه کوي چې په سیمه کې خپل ديني او کلتوري نفوذ بیا راژوندی کړي.

**پنځم- د سوریې کړکېچ:** ترکیې د سوریې په جګړه کې مستقیم رول لوبولی دی، د بشارالاسد د مخالفینو يې د هماغه لومړی وخت څخه ملاتړ کړی دی او د هغوی سره يې هر ډول مالي، نظامي او لوجستیکي همکاری کړي دي او دا په دې موخه چې له یوه طرفه دکردان نظامي ډلې لکه (YPG/PKK) مهار کړي او له بل اړخه د سوریې وګړي چې په ترکیه کې مهاجر دي په خپله خوښه خپل هیواد ته لاړ شي.

## په منځني ختیځ کې د ترکیې موخې

په منځني ختیځ کې د ترکیې سیاسي، اقتصادي او ټولنیزو کړنو ته په کتو ویلای شو چې په دې سیمه کې ترکیه لاندې موخې تعقیبوي.

**لومړی- د سیمه ییز ځواک په توګه راڅرګندېدل:** ترکیه غواړي چې په منځني ختیځ کې د یو ځواکمن او اغېزناک هېواد په توګه وپېژندل شي، چې سیاسي، اقتصادي، او نظامي نفوذ ولري.

**دوهم- د انرژۍ د انتقال په مرکز بدلېدل:** ترکیه هڅه کوي چې د منځني ختیځ د انرژۍ شتمنیو (ګاز او تېل) اروپا ته د انتقال په یو مهم مرکز بدل شي.

**دریم- د کردي نظامي ډلو مخنیوی:** د ترکیې یو مهم هدف په سیمه کې د کردي بېلتون پالونظامي ډلو د فعالیتونو مخنیوی دی، چې د ترکیې ملي امنیت ته يې ګواښ متوجې کړی دی، کردي نظامي ډلې د سیمې او نړۍ د سترو قدرتونو او اسراییلو لخوا تمویل کیږي، ترڅو ترکیه پرې تهدید کړي او په نهایت کې د ستر کردستان په نامه هیواد رامنځته کړي چې دا موضوع ترکیې ته د منلو وړ نه ده، په همدې موخه ترکیه د کردانو خلاف نظامي عملیات کوي او د سوریې نوي نظام څخه هم غواړي چې یا دې کردي ډلې د سوریې د نظام برخه شي او یا دې بې وسلې شي.

**څلورم- اقتصاد ته وده ورکول:** ترکیه غواړي د منځني ختیځ له بازارونو سره اړیکې پراخې کړي او د سیمه ییزو همکاریو له لارې خپل اقتصاد پیاوړی کړي.

**پنځم - .د اسلامي نړۍ مشري:** د فلسطین په ملاتړ او د اسلامي همغږۍ د ټینګښت له لارې او هم د عثماني خلافت کلتوري او سیاسي نفوذ د بیا راژوندي کولو له لارې د رجب طیب اردوغان په مشرۍ د ترکیې د موجوده نظام موخه او کوشش دا دی چې د اسلامي نړۍ رهبري او مشري ترلاسه کړي.

## په سیمه کې ترکیې ته پرتې ننګونې

**لومړی- سیمه ییز سیالان:** ایران، سعودي عربستان او مصر د منځني ختیځ په چارو کې د ترکیې سیالان دي، چې دا د نفوذ د لاسته راوړلو پروسه لا سختوي، ایران چې په سیمه کې د شیعه ډلو ملاتړ کوي او د سنیانو په خلاف کړنې ترسره کوي، چې ښه بېلگه یې سوریه ده، سوریه چې مطلق اکثریت یې سني مسلمانان دي، خو د ایران په ملاتړ د بشارالاسد نظام څخه ملاتړ کېده او هغه د خپل واک ساتلو لپاره په سني مسلمانانو باندې د هیڅ قسم ظلم څخه دریغ نه دی کړی، دا اوس چې په سوریه کې نظام تغیر شو، خپله د ایران مذهبي مشر آیت الله خامنه یی وایې چې د سوریې ځوانان به نظام بیا په خپل لاس کې اخلي او د ایران نور مشران وایې چې موږ په ایران کې یو لک او دیرش زره ځوانان روزلي دي چې زموږ د گټو نه به دفاع وکړي، نو دا د ترکیې پر وړاندې یوه ننگونه ده، همدارنگه په سوریه کې د نظام تغیر د ۲۰۱۱ز. کال د ربیع العربي یا عربي پسرلي یو سلسله ده، چې په مصر کې د اوسني واکمن عبدالفتاح سیسی لخوا پر مرسي کودتا وشوه او په مصر کې یې عربي انقلاب ناکام کړ، نو د مصر اوسني نظام ته به هم په سوریه کې د عربي پسرلي پاڅون کوونکو بریالي کېدل د منلو وړ نه وي او کېدای شي تر ډېر وخت پورې ورسره تعامل ونکړي، بلکې هڅه به کوي چې دا تغیر هم ناکام کړي، وبه گورو چې راتلونکي وختونو کې ترکیه او د سوریې اوسنی نظام د دی مشکلاتو سره څه ډول تعامل کوي.

**دویم- د نړیوالو اړیکو فشارونه:** د لویدیځ هېوادونو او امریکامتحده ایالاتو سره د اړیکو کړکېچ، په ځانگړي ډول متحده ایالات نه غواړي چې د کردانو نظامي ډلې چې ترکیه یې د له منځه وړلو هڅې کوي، له منځه لاړې شي، چې له کردانو د متحده ایالاتو او غرب ملاتړ هم د ترکیې پر وړاندې یوه ننگونه ده.

**دریم- اقتصادي ننگوني:** د غرب د اقتصادي بندیزونو له امله د ترکیې پولي واحد ورځ تر بلې خپل ارزښت له لاسه ورکوي چې دا هم په خپل ذات کې یو ستره ستونزه او ننگونه ده. په وروستیو څو میاشتو کی یی نسبی ثبات ترلاسه کړیده .

**څلورم- کورنی سیاست:** د کورني سیاست په اړه د ترکیې یوه ستونزه د کرد بیلتون پالو نظامي او ترهگریز عملیات دي چې کله نا کله په ترکیه کې چاودنې کوي او د ترکیه امنیت ته یو گواښ دی او بل د سوریې د څلور میلیونه مهاجرو ستونزه ده، چې د ترکیې د اوسني حکومت مخالفین له دې برخې تل پر اردوغان د فشار په توگه استفاده کوي.

### پایله

ترکیه د منځني ختیځ په سیاست کې د خپلو موخو ترلاسه کولو لپاره په ډیر جدیت سره هڅې کوي تر څو خپلو اهدافو ته ورسیږي، په همدې خاطر یې دا پیړۍ د ترکیې پیړۍ (قرن ترکیه) په نامه نوملې ده او په هره برخه کې کوشش کوي چې خپل قوت زیات او مستحکم کړي بالخصوص د ساینس او ټیکنالوژۍ،

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

اقتصاد او ډيپلوماتيکه برخه کې، په همدې خاطر کله غربي هيوادونو ته نيږدې کيږي او کله د روس او چين په مشرۍ رامنځته شوي ايتلاف (BRICS) سره ځان نيږدې کوي تر څو د سيمه ييزو او نړيوالو ننګونو سره مبارزه وکړي، د دې لپاره چې ترکيه په خپلو موخو کې بريالۍ شي، بايد لاندې برخو ته ځانګړې پاملرنه وکړي.

**لومړی- د سوريې له قضيې سره حکيمانه تعامل:** دا چې د سوريې د اوسني انقلاب نه مخکې د بشارالاسد نظام د ايران د پراخه ملاتړ څخه برخمن ؤ او د هغوی همکاري د بشارالاسد د ظالم نظام سره چا چې خپل ملت ډير وټکولو چې په نتيجه کې د سوريې ولس نن ورځ د ايران نه کرکه او نفرت کوي، اوس د سوريې اوسنی نظام د ترکيې په لاس کې دی، نو که ترکيه د سوريې د قضيې سره حکيمانه تعامل وکړي چې د سوريې خلک د ترکيې ملاتړ د ځان او ملي ګټو په خلاف و نه ګڼي، نو په سيمه کې د ترکيې حيثيت او قوت لا زياتيږي.

**دويم- د غربي هيوادونو بالخصوص د امريکامتحده ايالاتو سره د ترکيې با تدبيره تعامل:** دا چې امريکامتحده ايالات په منځني ختيځ کې د پراخه نفوذ څخه برخمنه ده، نو که ترکيه د غربي هيوادونو بالخصوص د امريکامتحده ايالاتو سره ښه تعامل ولري او خپل هيواد او سوريه د متحده ايالاتو د ټکر نه وساتي، نو دا به هم د ترکيې د حيثيت او قوت د زياتيدو سبب شي.

**دريم- د عربي مطرحو هيوادونو سره د ترکيې اړيکې:** مصر، سعودي عربستان او متحده عربي امارت په عربي نړۍ کې مطرح او قوي هيوادونه دي، نو که ترکيه د دې هيوادونو سره ښې او مؤثرې اړيکې ولري، نو دا به له يوه طرفه د سوريې د نظام د قوت سبب وګرځي او له بله پلوه به د ترکيې موقف لا غښتلی کړي.

**څلورم- د فلسطين قضيې په اړه رغنده رول اداء کول:** دا چې ترکيه د اسلامي نړۍ د رهبرۍ هڅه کوي، نو ورته په کار ده چې د اسلامي نړۍ په مهمو قضاياو کې مؤثر رول ولوبوي، چې د اسلامي نړۍ د ټولو نه اهمه موضوع نن ورځ د فلسطين قضيه ده، د اسلامي نړۍ ډيرى ځوانان نن ورځ د ترکيې څخه ګيله من دي، چې ولې يې د فلسطين په قضيه کې رغنده او مؤثر رول ترسره نه کړ، سره د دې چې ترکيه په ډيپلوماتيکه برخه کې خپل اواز د غرب او اسراييلو د ظلم په خلاف اوچت کړی دی، خو نور هم بايد په دې برخه کې جدي شي ترڅو د اسلامي نړۍ د رهبرۍ حق اداء کړی شي.

## مأخذونه

[1] علی غفوری، سقوط دولت عثمانی، ۱۳۹۵ هـ.ش.، لینک دسترس:
https://rasekhoon.net/article/show/1172716

[2] پروفیسر خورشید احمد، پروفیسر نجم الدین اربکانؒ، ایک تاریخ ساز شخصیت، ماهنامه ترجمان القران، ۲۰۱۱، د لاسرسي لينک:



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

https://www.tarjumanulquran.org/articles/may-2011-professor-najmud-deen-irbakan

[3]https://www.embassypages.com/turkey#:~:text=Turkey%20has%20144%20embassies%20abroad%2C%20as%20well%20as,located%20in%20Turk

[4]https://www.globalfirepower.com/country-military-strength-detail.php?country_id=turkey

[5]https://en.wikipedia.org/wiki/Qatar_diplomatic_crisis#Demands_on_Qatar_and_responses

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارګان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړیکه:**

ایمیل: info@csrsaf.org

وب سایت: www.csrsaf.org

شمېره: +93780618000

+93780618000